مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب الله زغم

۲۰۲۳/۱۰/۲۳

قیمت بې حکمته نه وي؟

پخوانو متل کړی دی چې ارزانه بې علته او قیمته بې حکمته نه وي. مانا دا چې هر ارزانه شی به خامخا یو عیب لري یا به بدل شی وي، یا به د غلا مال وي او یا به مستعمل وي. خو چې قیمته وي خامخا به یو حکمت لري، یو ښه والی به لري.

څلور کاله مخکې زما مشر ورور له مسکوه راته، تر راتګ یوه اوونۍ د مخه یې راته تیلفون وکړ چې څه شی دي په کار دي چې درته رایې وړم؟ د ده عادت دی، هر کال چې راځي له ټولو ورونو او خورکۍ څخه همدا پوښتنه کوي. ما ورته وویل بس چې ته راشې همدا راته هر څه دي.

دی چې راغی پلار او ټولو ورونو ته یې بوټونه راوړي وو، ورښدارو، ورپرونو او ورپرو ته یې هم سوغاتونه بار کړي وو. زموږ بوټونه چینایي وو. پوښتنه مې وکړه دا دي په څو اخیستي؟ ویې ویل: په شل ډالره. ما ورته کړه: نو څه حاجت چې دومره دروند بار دي له مسکوه تر ځایه راوړه. دلته هم چینایي مالونه خرڅیږي هلته هم. همدغه بوټونه چې تا په شل ډالرو اخیستي دي، دلته په دري سوه افغانۍ یعني په شپږ ډالره خرڅیږي. لالا مې هم یو څه خواشینی شو چې ښځیا یې بوټونه قیمته اخیستي دي.

د ده تر راتګه د مخه ما څو واړي له کابله چینایي بوټونه اخیستي وو خو هره جوړه یې تر دري څلورو میاشتو زیات دوام نه و کړی. اوس هم چې دغه مقاله لیکم هماغه بوټونه مې په پښو دي چې لالا مې څلور کاله د مخه راته راوړي وو. دا هم چینایي مال دی او زموږ بازارونه هم له چینایي مالونو ډک دي خو دغه چینایي او زموږ چینایي آسمان ځمکه توپیر سره لري. یو خو یې د دوام مسأله ده، دغه بوټونه زموږ د بازار د بوټونو لس ځله زیات دوام کوي، بله خبره دا ده چې زموږ د بازار په بوټونو کې د سړي پښې بوی کوي خو دا لکه د څرمنو چې وي، بوی نه کوي.

چین هماغه چین دی، موږ هم مال ځني راوړو، اروپایي او امریکایي ملکونه هم خو ولې په مالونو کې یې دومره زیات توپیر دی؟

یو انډیوال مې تاجر دی ویل یې په اول ځل چې ټایګر جنرټرونه راغلل، خورا درانه وو خو ورا په وار سره یې وزن کم شو. په اولو وختونو کې که به په جنرټر باندې ۹۵۰واټه لیکلی و، هماغومره برښنا به یې تولیدوله خو اوس که یې ۱۵۰۰ لیکلي وي نو ایله ۷۵۰ واټه پوره کړي.

یو وخت مې یوه امریکایي پروفیسر سره بحث و. ما وویل، زه په دې خواشینی یم چې په افغانانو کې غله ډېر دي، ستاسي مرستې به دوی پټې کړي. ده راته وویل: څه فکر کوي، امریکایان غله نه دي؟ ما ښځیا ګومان کاوه چې غربیان صادق خلک دي نو ومې ویل: نه. ده وویل تر امریکایانو لوی غله په دنیا کې نشته خو زموږ سیستم سم دی. سیستم چا ته د غلا موقع په لاس نه ورکوي، که نه انسانان په هر ځای کې یو رنګ دي. ستاسي ستونزه دا ده چې سیستم نه لرئ.

اوس چې ورته ګورم ښځیا یې ویل. موږ په ګمرکونو کې کوالټي کنټرول نه لرو. د وارداتي موادو کیفیت نه ګورو. تاجران مو د ځاني ګټې په خاطر له دې خلا استفاده کوي، د چین کارخانو ته د بې کیفیته ارزان بیو موادو د جوړولو فرمایش ورکوي. خلک هم همدا غنیمت ګڼي چې په دري سوو افغانیو باندې بې کیفیته بوټ واخلي خو دې ته نه ګوري چې ښه بوټ که قیمته دی نو ډېر وخت به دوام کوي.

ما پخپله څو څو ځله دغه تېروتنه کړې ده. په ارزانه شي پسې په لیلامو کې ګرځېدلی یم خو هغه بیا ژر خراب شوی او بیا مې اصیل شی په ګرانه بیه اخیستی دی. د کور په اکثرو سامانو مې دوه واړي پیسې ورکړې دي. موږ هر وخت د لنډ مهالي ګټې په خاطر اوږد مهاله ګټه له لاسه ورکړې ده.

یو ملګری لرم هغه هر شی په لوکسو مغازو کې اخلي او دې ته خوشحاله وي چې اصیل شی یې اخیستی دی خو ما لیدلي دي چې په ځینو لوکسو دوکانونو کې هماغه بې کیفیته مواد په لوړه بیه خرڅیږي. هوښیاري دا ده چې د هر څه لپاره د هغه تر ارزښت زیاتې پیسې ورنه کړو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ